مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسور عبدالخالق رشید ۲۰۲۲/۱۱/۱۳

# افغانیت او اقبالیت

## د خودی پر یوه کرښلیچ

### د علامه اقبال د کالیزې په درناوي



ہزاروں سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتی ہے
بڑی مشکل سے ہوتا ہے چمن میں دیدہ ور پیدا

----------------------------------------

یوله هغو بحثونو څخه چې نن سبا یې په اقبال پیژندنه (۱) کې ډېرلوړځای نیولی دی هغه دادی چې دغه پوهنه په یوخورا پیاوړی معنوی تګلوری باندې خپل حرکت ته دوام ورکوي ، همداده چې دنړۍ په هره برخه کې یې آن له هغه پیله بیاترننه پورې یې دنړۍ د خورا مهمو لیکوالو پاملرنه پرخپله خواوراړولی ده .پرمعنویت باندي باوردااقبال پیژندنې خوراپیاوړی او دپاملرنې وړ راز او رمزدی، اوداهغه فکت دی چې اقبال یې په خپل وخت کې هغه ته متوجه کړی دی .له دغه اصل سره په یوه وخت کې داخبره هم وه: په کوم عصر او کوم حالت کې چې علامه اقبال دخپلې پوهې دځوانۍ پر پړاو باندی خپل فکري هڅون پیل کړی و،نړۍ داسې نه وه چې هغه بایدپه تمامه معنا دیوه معنوی جهان انځور داوسنې نسل په واک کې ورکړي،برعکس دا داسې مهال و چې نړۍ په خورا پیاوړتیا پرهغه خوا روانه وه چې هغه دژوند مادي اړخ و،هغه چې داقبال په نظریې دمعنویت دیولړارزښتونو په وړاندې په پراخه نړیواله کچه دبیلابیلو نظریاتي سستمونو په منځ کې دمخالف دریځ څرګندونه کوله اویولړپه نامه معنوي هڅې په ظاهري توګه په داسې حال کې نه وې چې دهغو پرخوا دې لکه دمنځنیواوتریوه حده د پنځلسمې اوشپاړسمې پیړیو په شان د نړۍ عمومی حرکت ورمخه کړي. همداوجه وه چې یوشمیرکسان په لویدیزاو ختیزکې داسې هم رامنځ ته شول چې دوی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خپلي هلي ځلي له معنوي چوکاټه دباندي په زيات ارزښت سره نه منلي اونه يي دمادي چټکي ودې په چورليچ کي په زيات اهميت سره ښودای او څرګندولای شوې ددغه کاريو لامل داوه چي په ختيز کي زياترو پوهانو د لويديز په پټوسترګو تقليد ته تر رښتياينو معنوياتوزيات اهميت ورکاوه ، دوی سره له دې چي لويديزاوهلته دتولنيزي ودې تګلوری په دقيقه توګه نه وليدلی،خو هغه څه چي هلته روان وو دهغو لپاره يي په پټوسترګو داسي افراطی فداکاری اوقرباني پيل کړې چي ان تراصلي بنسټوالو يي دغه پلويان او پيروان دومره چټک اوتاوده شول ،چي ګواکي دنړی د تحول او تکامل تيوري د دوی په لاس کي ده او ياداچي دوی هغه رامنځ ته کړي ده . دومره چي هر څه يي ددوی په خپلو نومونو ختم کړل ، که انګلس او مارکس په ماديت باندي علمی بحثونوراپيل کړل، خو په مقابل کي يي لينن، ماو اونور بيا داسي څوک نه وو چي دهغو دواړو ځای ته دې ورسيږي چي له بده مرغه د دوی نومونه بيا دومره په افراط سره نامتو شول چي خبره يي ترهغو زياته درنه شوه او دمادی فلسفي تولي قانونمندی سره له دې چي د ددغو دوو ورستيو له افکارو سره يي په نظرياتو لحاظ تړاو او اړاو سياسي بڼه درلوده ، ددوی لپاره دهغو تربنسټوالو زياتي هم تعبيراو تفسيرشوې .

يوشميرختيزپوهان داسي هم وو چي کله دوی لويديزله نژدې وکوت اوهلته يي دعلومو اوفنونو او نورو پرمختګونو بهيروليد اوهغه يي له خپل وروسته پاتي والي سره په دقيقه توګه پرتله کړ،هغوی چي کله له هغي خورا راوګرزيدل نو بيادومره خوشبين هم نه وو چي هر څه بايد پرهغوی اودهغوی له پاره پرتبليغاتوباندي په پټو سترګو وتړي او لويديزدی دهر څه پيلامه او سرنامه وبولی،چي يوپه دغو ځوانو کادرونو کي ځوان اقبال و، چي هرڅه يي هلته دچا خبره دزړه په سترګووليدل،له هغو تجربو سره ختيزته راستون شو اودلته يي خلکو ته په ډيره سړه سينه هغه څه چي په لويديزکي روان وو اوهغه څه چي په ختيزکي موږ درلودل په خورا ځيرکی سره دخپلوخلکواو ژوند يوافکارودتحليل اوپرتلي په مخ کي کيښودل ، هغوی يي په شعوري توګه په ډيراحتياط سره دې ته ځيرکړل چي بايد په دغه برخه کي دخپلو تيرواوخپلو روښانه ميراثونو په رڼاکي په علمی وړتيا او علمي وسايلواو دلايلوسره پريوه انتقادی نظر سره لاس په کارشي او په دغه برخه کي د دخپل منطق پرچاڼ د هغه افراط او تفريط په وړاندي ځان وکوري چي لويديز يي په هوښياری سره پرموږ تپي او موږ هم په ناپوهی سره دهغودپراختيا او وړتيا دتبليغ لپاره په پټوسترګو متي رابډ وهلي دي .

اقبال له لويديزڅخه په داسي روحيي سره راستون شو چي دنده يي په ختيزکي شعوروينول، شعور روزل اوشعورپيژندل وو. چي له شکه پرته دغه کار دشعوری انسان شعوری حرکت ته اړتيا درلوده ، ده له هرڅه څخه خپل تعبيردرلود اوهرڅه يي دخپل تيراو خپل اوسني ژوند پر واټ باندي نه يوازې په يوه بعدي توګه تحليلول بلکه هغه يي زموږ په وړاندي لکه چي دمخه مواشاره وکړه ، تشريح کول هم .ده په دين اوايمان کي د انساني خودی يوه روښانه مرغلره لټوله چي دهغي څخه يي تعبيراوتفسير ملايی نه و، بلکی فلسفی او علمي و،همداده چي وايی دين څه شي دي ؟ دده په وړاندي دهغه معنا څه ده ؟

| | |
|---|---|
| چيست دين ؟ دريافتن اسرارخويش | زندگی مرگ است بی ديدارخويش |
| آن مسلمانی که بيند خويش را | ازجهانی برگزيند خويش را |
| ازضمير کاينات آگاه اوست | تيغ لاموجود الا الله اوست |
| درمکان ولامکان غوغای او | نه سپهر آواره درپهنای او |
| تا دلش سری زاسرار خداست | حيف اگرازخويشتن نا آشنا ست |
| بنده ی حق وارث پيغمبران | اونګنجد درجهان ديګران... |

يوه خبره چي زموږ ختيزوالو روڼ اندوپه بدمرغيوکي تل شميرل شوې هغه داده چي زموږ دځان پيژندني احسا س خوراکمزوری اوکله خو په نشت هم حساب دی ،پردي که هيڅ هم نه وي موږ ته ترموږ مهم او دپاملرني وړښکاري ، له بده مرغه موږ تل دوی دځان آيينه کړي دي،او تل موخپله ځيره دهغوی له نيرنګوپه ډکه هنداره کي ليدلي ده ، بده يي لا داچي دځان رښتني وړتيا او معنويت مودهغو دنيمګړو معلوماتو پراساس منلي او ارزولی دی او پرته له هرډول استدلاله مو هغوی هغه دخوشال خان خبره :

هرمغل چي په سوات راشي شهزاده شی .

دځان لپاره وياړ اوفخر ګڼلي دي، په داسي حال کي چي ددغه کارلپاره بايد موږ يوحدولرو، زه نه وايم چي دغه کار به يوازې دافغانانو او ايرانيانو خانګړنه وي،نه ، ترموږ له دغه درده هندوان اوله هغو سره په چم ګاونډکي نورقومونه هم داسي ځوريږي چي ان د خپل ژوند تګلاره دژوند په لارو کي تري ورکه ده ، ګاندي چي کله انګلستان ته دلوړو زده کړو لپاره ولاړ، هلته يوپريو له يوه داسي بهيرسره مخامخ شو، چي ټولو پوهانو و فيلسوفانو دده دمذهب او معنويت په باره کي ښيرني کولي اوپرهغوباندي بوخت وواودهغه له مخي يي انسان او انسانيت په معنوي لحاظ ارزاوه . دي همالته دخپل مذهبی کتاب بهګوت ګيتا اهميت ته ځيرشو، هغه اوخپل نورمذهبی کتابونه يي راواخيستل اود هغو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په لوستلو یې هلته پیل وکړ، ځکه ده ولیدل چې هلته لوی لوی پوهان دده پرمذهبي کتاب (بهګوت ګیتا) باندې راټول شوي او لوی لوی فلسفی بحثونه يې پرهغه باندې پیل کړي اوله هغه را ایستلي دي ، داسې چې دی خپله اعتراف کوي چې ورته حیران شو، اودغه دده او دده دخلکو له پامه لویدلی معنوي میراث چې ده ته هيڅ ښکاریده ،پریوې ځانګړې لویی اولوړتیا سره ولید، ورته متوجه شو، ان داچې دهغه خپل ارزښتناک میراث پېژندل اولوستل يې هم په دقیقه توګه په انګلستان کې پیل کړل، څو ځان په دغه رمز باندې پوه کړي چې په دغه مهم کتاب باندې دومره تاوده بحثونه هغه هم په داسې یوه ټولنه چې موږ فکرکوو دوی هرڅه لری ولې روان دي ؟هغه څه دي چې د دوی لپاره دومره مهم او دپاملرنې وړ دي چې موږ سره له دې چې هغه نمانځواوهغه مو خپل میراث دی بیاهم نه پرې پوهیږو.
علامه اقبال هم د یوه مسلمان طالب العلم په توګه له عین بهیرسره مخامخ شو، همداوه چې کله يې زده کړې بشپړې کړې، او بیرته هندوستان ته راوګرزید نو يې دخپل هیواد اوځوان نسل په وړاندې هغه معنوي رښتیاوې طرح کړې ،چې ددوی ترنظرنه ورتلی او یا دا چې د لویدیز ځل بل پرې لویدلی و،ده په شعوري توګه په ژوندي جرآت سره پرهغوویاړونو ورمخه کړه چې هغه دشلمې پیړې په دغه انقلابی پیرکي دیوه ناخبره نسل لپاره دساینس اوتکنالوژی په خوځنده بهیرکې دخنداوړاوله نظره لویدلي اود وروسته پاتې والي نښې ښکاریدې،خوډاکټراقبال په رښتیا ددغو مادي شونتیاوو پروا ونه کړه او نه يې دغه ټکي ته په اهمیت سره و کتل، په خورا شهامت سره يې دخپلې پوهې لپاره پرهغو ویاړونو ورمخه کړه ، هغه چې نه یوازې په نیمه وچه پورې اړوندوو بلکه هغه دټول ختیزویاړلی او نه هیرو دونکي ارزښتونه بلل کیدل .

جوبات حق هو، مجهه سي چيتهي نهين رهتی خداني مجكو دياهی دل خبيروبصير
(كليات اقبال - ضرب کلیم ص ۱۰۴۰ )

اقبال دخپلو نظریاتو په ترڅ کې هندوستان ، هندوستانیانو ته ورویپژاند، افغانستان يې افغانانو ته ، فارس يې فارسیانو ته ، ځکه چې دده په نظراوس ددغو ویاړلو اومتمدنو خلکو لرغونی اواوسنی حالت له یوه اوبل سره ډیرو په وړاندې دیرتلې وړنه ښکاریده، داملتونه ښکیلاک او دهغه وحشت په تمامه معنا داسې ځپلي وو چې له دوی څخه يې هرڅه یاخیستی وو او یايي ترهیرکړي وو، نژدې دوې پیړۍ دغو ولسونود انګریزي ښکیلاک له لاسه په جنګواوبدمرغیو کې تیرې کړې وې ، کوم نسلونه چې اوس داقبال په وړاندې وو،هغوی ته هرڅه یوازې لکه یوه کیسه او یوخیال داسې ښکاریدل، اویانه پرې پوهیدل ، دهغه لویه دنده همداشوه چې باید دختیزدوبینولو لپاره لاس په کارشي اوهغو ملتونه چې تراوسه هم يې دخپل تیرپه زورکولای شول ژوندي پاتې شي د زماني رمزتشریح کړچې په هغوکې دده په نظرافغانان اوافغان ملت په سرکې راته اوپه ډیره سړه سینه یې دغه قام ته ترغوږ ورتیره کړه چې :

آسیا یک پیکر آب وگل است
ملت افغان درین پیکر دل است

داقبال پوهنې د روښانګري اړخ دشعوري پراختیا ټکي هغه مهال خورا مهم شوچې کله افغانانووکولای شول په آسیاکې دانګریزي ښکیلاک په وړاندې راوپاریږي اودغازي امان الله په مشرۍ دې ځان په سیمه بیزه اونړیواله کچه خپلواک اعلان کړي، همدغه ټکي پراقبال باندې ژوره اغیزه وکړه اوترهغو چې ژوندی و، ده دخپلواکی معنوي رمزدافغان ملت په کړو وړو، تاریخ او کرکترکې وخیره اودهغه دپیاوړتیا لپاره يې پرهغوسرچینوباندې ډه ډه وکړه، هغه چې په خپله په لومړی قدم کې دآسیایانو اوپه دویم قدم کې دافغانانود ژوند په رمز او راز پورې اړوندې وې .
همداوه وجه وه چې ددغه ملت په وړاندې يې ددوی تاریخی اومعنوي ویاړونه د دوی په مخ کې کینودل او دتمدن له کاروان څخه دناخبره قام پام يې ددوی ارزښتونو ته په زور اوزیرسره راواړاوه .

رومی بدلي ، شامي بدلي ، بدلا هندوستان
تو بی ای فرزند کهستان ! اپنی خود پهچان
اپنی خودی پهچان
او غافل افغان (۳)
موسم اچها ، پاني وافر، متی بهي زر خیز
جس نی اپنا کهیت نه سیخا، وه کیسا دهقان
اپنی خودی پهچان
او غافل افغان!
اونچی جس کی لهر نهین هي ، وه کیسا دریای
جس کی هوا بین تند نهین هین ، وه کیسا طوفان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اپنی خودی پهچان
او غافل افغان...
(کلیات اقبال - ضرب کلیم ص ۱۰۵۹)

داقبال لپاره یوسترمعنوي لاربنود چي په دغه برخه کي يي دی د شعوري تفکر پرمیدان ودراوه هغه فارسي اوپښتوژبي اودهغو په ترځ کي ددغوژبو کلاسیکان وو چي له دوی څخه په دغوژبوکي دانسان پالني او انسان روزني جاویدانی درسونه پاتي وو ، دغو ارزښتونواقبال بي له شکه دي ته وهڅاوه چي دهغوی د نړی لید په رڼاکي، دهغو دفکري دريځو له رڼاوو څخه ځان او جهان ته وګوري او دهغو په رڼا کي د معنویت هغه رمزرا په ګوته کړي چي نه یوازې دی ورسره بلد و بلکي هغوی چي کولای شول په انساني کچه هم د انسانیت په روزنه کي برخه واخلي .پرفارسي ژبه برسیره يي پښتو ژبي اودهغي دکلاسیکانو مرغلرو ته هم ورمخه کړه او له هغو يي هم ځان خبرکړ، دومره چي دهغو په رڼاکي يي ځان دنبوغ او لوړتیا پړاو ته ورساوه . ترهرڅه دمخه يي په ادبي او فرهنګي لحاظ ددغي ژبي لويي هستی خوشحال خټک ته ورمخه کړه او هغه يي سر ترپایه له نومیالي پښتوپوه ، ليکوال او شاعر شمس العلما میراحمد شاه رضواني څخه ولوست ) ۲ (پرخوشحال برسیره يي رحمان بابا ته هم ورمخه کړه ، دهغه په افکارويي هم ځان پوه کړاو دهغه دافکارو په رڼاکي يي ددغي لرغوني ژبي په هغومعنوي لاربنوونکو پسي دم اوقدم یو کړ، هغوی ته چي په علمي اومعنوي لحاظ مخ ور اوښت اودهغوی په افکارو کي يي سم دم دانسان اوانسانیت دخپلواکي دتحقق پرلامل ډیرڅه داسي چي هغه بیا په فارسي کي نه ول ولیدل. ده په خپل وخت کي په مولانا، سنایی ، عطار، ا خوشحال ، رحمان بابا ،احمدشاه بابا ، سیدجمال الدین افغانی ،امان الله خان ، اوله جهل څخه دافغانستان دژغورندوی نادرخان او ان ظاهرشاه پوري ځان ورساوه او له دغو ټولو په معنوي لحاظ د زړه له کومي دشعوری وبینتیاغوښتونکی شو. چي دغه رمزدده په یو زیات شمیر ليکنو لکه پیام مشرق ، مسافر او نورو فلسفی آثاروکي له ورایه ښکاري .
اقبال په مسافرکي دخپل سفرپه ترځ کي له کابل،غزني، کندهار، څخه لیدنه کوی ، اوهلته نه یوازي داچي ددغوسیمو حالت په خپل وخت کي ګوري اوانځوروي ،په دغو سیموکي پرهغو معنوي ویاړونو باندي هم غږ کوي چي دهغوپه افکارو او آثارو باندي معنویت ویاړي ځکه دي پردي باوري دي چي دهغو په برکت هغه پرتم چي انسان ته يي دانسانیت ستروياړ وربه برخه کړی دی ژوندی دی .چي یو له دغو مخکښوویاړلوڅخه دغزنی حکیم ابوالمجد مجدود بن آدم سنایی و چي دی له هغه څخه په خپلو افکارو کي ډیراغیزمن شوي .
په دي کي هيڅ شک نشته چي هرڅوک زموږ په تاریخ او فرهنګ کي دمعنویت په اړه څه وايي او ياڅه ليکي دابه ډيره ګرانه وي چي دغزني ددغه لوی شاعراوعارف نوم اونبوغ به یادنه کړي ، دبلخ دمولانا په ګډون زیات شمیرليکوال اوصوفیان دده له تعلیماتو اغیزمن شوي ،اقبال مولانا ته دمعنویت په ستاینه کي دخپل لاربنود په توګه وکتل اوخپله لوړه معنوي وړتیا او درجه يي دده دفکراو شعوربرکت وبلله او په خپلو ادبی آثارو کي يي تشریح او په ډاګه کړه دسنایی دمعنوي روح په برکت يی د خپل معنوي شهکار) مثنوي ( په کښلو باندي لاس پوري کړ اودغه سترمعنوي ارزښت يي دسنایی دمعنویت په برکت بشپړکړ لکه چي وایی .

ترک جوشی کرده ام من نیم جان ازحکیم غزنوي بشنو تمام

علامه اقبال هم په خپل وخت کي دنيا ته، مسلمانانوته همدغه خبرورساوه، ده ځان اوجهان ددغو اسلامی عارفانو پرکړو باندي د زړه له کومي باورمن کړ،ده په خپل وخت کي داسي څه لکه چي سنایي اومولانا اورحمان بابا تعریف او توصیف کړي وو ونه ویل دده کار او دنده،دده تعریف اوتوصیف له مولانا او سنایي اورحمان څخه توپيردرلود لکه چي دی خپله په دغه اړه اعتراف کوي :

هردو را ازحکمت قرآن سبق اوزحق گوید من ازمردان حق

ده لوی کمال په دغه اړه دا ترسره کړچي خپل نسل يي پردغوا نساني ویاړونو باندي خبرکړاودهغو تحلیل يي په خپل عصرکي چي ترډيره حده د مولانا اوسنايي د زمان په انډول مادي شوي و په يوڅه نوي بني ترسره کړ لکه چي د خپلي مثنوي ( نو بیا دختیزقومونو څه باید وکړو ؟) په پیل کي ليکي چي :

پیر رومی مرشد، روشن ضمیر کاروان عشق ومستی راامیر
منزلش برتر زماه و آفتاب خیمه را ازکهکشان سازد طناب
نورقرآن درمیان سینه اش جام جم شرمنده ازآیینه اش
ازنی آن نینواز پاک زاد باز شوری درنهاد من فتاد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

اقبال چي كله دخپل سفر په ترځ كي دسنايي پرمزار باندي د خپل زړه براس وباسی،دلته دی ځان دهغه په وړاندي دداسي چاپه توګه نه معرفی کوي چي ګواکي هغه دهند دنيمي وچي لوی شاعردی، داسي چي دعصردئولواک له خوا د یوه درانه ميلمه په توګه افغانستان ته رابلل شوی او دلته په شاهانه برم اوویاړسره بدرګه اوهرکلی کيږي،همدغه لوی انسان دده په وړاندی ځان د(دهندي فقير) په توګه معرفي کوي،فقيريوه معنوی مرتبه ده چي يوازي دهغوی لپاره چي دحق په لټه دهغه په لور، دهغه په لارځه کوي کارول کيږي، اقبال دخپلي زماني نوميالی اوهغه بااحساسه شاعر چي لويديزيي ليدلي و،هغه چي هلته له لويو پوهانو او فيلسوفانو سره يي کتني شوي وي ، هغه چي قرآن په سينه ديوي پراخي ورورولی پرلور دچټک حرکت او مبارزي پرلور ورمخه و، هماغه اقبال اوس ددغه معنوی لارښود په وړاندي ولاړواوهغه ته يي دخپلوهيلو ځولی غوړولي او ورته وايي :

ازنوازشهای سلطان شهید — صبح وشام ،صبح وشام روزعید
نکته سنج خاوران هندی فقیر — مهمان خسرو کیوان سریر
تا زشهر خسروی کردم سفر — شدسفر برمن سبک ترازحضر
سینه بگشادم بآن بادی که پار — لاله رست ازفیض او درکوهسار
آه غزنی آن حریم علم وفن — مرغزار شیرمردان کهن
دولت محمودی را زیباعروس — ازحنا بندان اودانای طوس
خفته درخاکش حکیم سنایی — ازنوای او دل مردان قوی
آن حکیم غیب ، آن صاحب مقام — ترک جوش ، رومی ازذکرش تمام
من زپیدا، اوزپنهان، درسرور — هردو راسرمایه ازذوق حضور
اونقاب ازچهره ی ایمان گشود — فکرمن تقدیر مومن وانمود
هردو را ازحکمت قرآن سبق — اوزحق گوید من ازمردان حق
درفضای مرقد او سوختم — تا متاع ناله یی اندوختم
گفتم ای بیننده ی اسرار جان — برتو روشن این جهان وآن جهان
عصرما وارفته ی آب وگل است — اهل حق رامشکل اندرمشکل است
مومن ازفرنگیان دید آنچه دید — فتنه ها اندر حرم آمد پدید
تا نگاه او ادب ازدل نخورد — چشم اورا جلوه ی افرنگ برد
ای حکیم غیب ،امام عارفان — پخته ازفیض توخام عارفان
آنچه اندر پرده غیب است گوی — بوکه آب رفته بازآید بجوی

روح حکیم سنایی ازبهشت برین جواب می دهد

رازدان خیروشرگشتم زفقر — زنده وصاحب نظر گشتم زفقر
یعنی آن فقری که داند راه را — بیند ازنور خودی الله را
اندرون خویش جوید لااله — درته شمشیر گوید لا اله
فکرجان کن چون زنان برتن متن — همچو مردان گوی درمیدان فکن
سلطنت اندر جهان آب وگل — قیمت اوقطره ی ازخون دل
مومنان زیرسپهر لاجورد — زنده ازعشق اندونی ازخواب خورد
می ندانی عشق ومستی ازکجاست ؟ — این شعاع آفتاب مصطفی است
زنده یی تاسوز او درجان تست — این نگه دارنده یی ایمان تست
باخبرشو از رموز آب وگل — پس بزن برآب وگل اکسیر دل
دل زدین سرچشمه ی هرقوت است — دین همه ازمعجزات صحبت است
دین مجو اندرکتب ای بی خبر — علم وحکمت ازکتب دین ازنظر
بوعلی داننده ی آب وگل است — بیخبر ازخستگیهای دل است
نیش ونوش بوعلی سینا بهل — چاره سازیهای دل ازاهل دل
مصطفی بحر است وموج اوبلند — خیزواین دریا بجوی خویش بند
مدتی برساحلش پیچیده یی — لطمه های موج او نادیده یی
یک زمان خود رابدریا درفکن — تا روان رفته بازآید به تن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ای مسلمان جز براه حق مرو
نا امید ازرحمت عامی مشو
پرده بگذار آشکارایی گزین
تابلرزد ازسجود تو زمین
دوش دیدم فطرت بیتاب را
روح آن هنگامه یی اسباب را
چشم اوبرزشت وخوب کاینات
درنگاه او غیوب کاینات
دست او با آب وخاک اندرستیز
آن بهم پیوسته واین ریزریز
گفتمش درجستجوی کیستی ؟
درتلاش تارو پوی کیستی ؟
گفت ازحکم خدا ذوالمنن
آدمی نوسازم ازخاک کهن
مشت خاکی را بصد رنگ آزمود
پی به پی تا بید وسنجید وفزود
آخر اورا آب ورنگ لاله داد
لااله اندرضمیر اونهاد
باش تا بینی بهار دیگری
ازبهارپاستان رنگین تری
هرزمان تدبیرها دارد رقیب
تا نگیری ازبهار خود نصیب
بر درون شاخ گل دارم نظر
غنچه ها رادیده ام اندرسفر
لاله را در وادی وکوه ودمن
ازدمیدن باز نتوان داشتن
بشنود مردی که صاحب حستجوست
نغمه یی را کوهنوز اندرگلوست

اقبال دلویدیز له تمدن سره آشنا شو، خودده دغه آشنایی داسي نه وه لکه یوشمیرچي دلویدیز په نالیدلي خیره باندي زړه بایلی اوترهغوچي دهغي په اړه قضاوت کوي، نوبیا په خپله په هغه کې ډوب شوی وي، خو اقبال داسي نه و، اقبال لویدیزته تر ګاندی هم په خلاصو سترګو ولاړ،په دي معنا چي ده له یوي خوا خپل شرقی فرهنګ په اړخیزه توګه پیژندلی اوهغه یي د خلکو په وینا په بشپړه توګه هضم کړی او ځان یي ددغه فرهنګ په ټولو معنوي ارزښتونو باندي په هراړخیره توګه ملا کړی و، کله یي چي هلته په لوستنه اوتجسس باندي پیل وکړ،دی هلته ترهرڅه دمخه هغو ټکو ته ځیرو چي ده په لویدیز فرهنګ کي لوستل اولیدل ، ده هغه معاصر اودغه کلاسیک معنوي ارزښتونه دواړه سره مقایسه کول، دده لویی په دي کي وه چي ده په غربی تفکرباندي داخبره ومنله چي، کوم ارزښتونه چي دوی دخپل تمدن دودي په برخه کي اوس کاروي اویادوي داهغه څه دي چي په شرق کي پرهغه باندي ددغي سیمی پوهانواوفرهنګیانوله پیریو پیریو راپه دیخوا سیستماتیک کارکړی و. څه چي هغوی پراخته وو او ځیرني پری کولي هغه کرده هغه څه وو چي دلته قرنونه مخکي ترسره شوي وو،ده چي کله دخپلي دکتورا رساله وکښله په هغي کي دده موخه داوه چي لویدیزوالو ته باید پرشرقی ذهنیت استوار معنویت ورویپژنی اوهغه یي کوله چي په خپلو لیکنو کي د هغوخپله لوړتیا اوبرتري په شعوري توګه دلویدیځو پوهانواوځیرنکو په مخ کي کیږدي.اقبال داسي نه و لکه ګاندي چي کله لندن ته ولاړنه پوهیده چي څه ووایی، څه وکړي ، ځکه چي ده دخپل شرقي اوهندي تمدن په باره کي معلومات نه درلودل، کله چي ده په بهګوت ګیتا اونورمقدسوکتابوباندي دخارجیانو بحثونه اوځیرني واوریدل او ویي لوستل، له هغه وروسته دی دخپلومعنویاتو لوړتیا اواهمیت ته ځیرشواوله هغه وروسته یي دهغو لوستلو ته ملاوتړله ، خواقبال په پرانیستو سترګو لویدیزته ولاړاوهلته یي خپل شرقی ارزښتونه دلویدیز والو په وړاندي په لویی او لوړتیا سره تشریح کړل .

بزم جهان مین ، مین بهی هون ای شمع ! دردمند
فریاد در ګره صفت دانه سپند
کعبی مین، بت کدی مین هی یکسان تری ضیا
مین امتیاز دیر و حرم مین پهنسا هوا
( بانګ درا )

**اخځونه او څرګندوني :**

(۱) علامه اقبال د شرقی نړی له نامتو مفکرینوڅخه شمیرل شوی ، په) ۱۸۷۷ ( کال کي د هندوستان په سیالکوټ کي زیږدلی دی شاعر دی ، نثرلیکونکي دي او په لویدیزمعاصروځیرنوکي دمطالعي خاوند دی . له افغانانو او افغانستان سره دځانګړي مینی له امله یي ددغه هیواد له نامتو واکمنانانو لکه غازی امان الله او نادرشاه سره ښه اړیکی درلودل ، په ۱۹۳۳ کال کي اعلحضرت نادرشاه له خوا کابل ته راوبلل شواودلته یي د نوي پوهنتون ( کابل پوهنتون ) دجوړیدو په اړه نادرشاه ته دعصري علومو د تدریس په اړه مشوره ورکړه، له ده سره په دغه سفرکي علامه سید سلیمان ندوی اوسرراس مسعود د سرسیداحمدخان لمسي اوځای ناستی هم ملګري وو. دخپل دغه سفر ټوله دوره یي په خپل (مسافر ) نومي اثرکي په منظمه اومنظومه توګه وکښله .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

دعلامه اقبال د فکري میلان سرچینه دافغانی ژوند،کلچراوفرهنگ ترټولو ښکلی تعبيراوتفسيردی،خپل نامتو اثر( پیام مشرق ) یې دافغانستان واکمن غازي امان الله خان ته اهدا کړی دی، خودغه ارادت یې بیا ترپایه امان الله خان ته پاتي نه شو .

(۲) رشید ، عبدالخالق، افغانستان پیژنده اواقبال ( رساله دوکتورا ) نا چاپ .علامه اقبال په پښتو ژبه اوادب کي هم په زړه پوري مطالعه درلوده ،ده خوشال خان خټک اودهغه ټول آثاراو افکارلوستي او له هغو ښخه دخپلو افکارو په ترخ کي خورا زیات اغيزمن دی،داچي اقبال خوشحال د چا په واسطه وپيژاند دغه بهیرما ټول دخپلي دوکتورا په اثر کي په ډاګه او تشريح کړي دي .د اقبال شاهين د خوشال خټک دخیال د بازمعاصرسمبول دی چي علامه په فلسفی انداز کي له موږ او نړی سره شریک کړ .

(۳) علامه اقبال په ضرب کلیم کي یو لوی سرلیک چي ټول (۲۰) شعرونه په کي راځي دمحراب ګل افغان په فرضی نامه لیکلی دی چي په هغه کي یي ددغه قام په ځانګړنو، ستونزو، خرافاتو اوهغو کمیو باندي رڼا اچولي هغه چي یولړیي باید جدي اصلاح شی او یوشمیرنوري یي باید له منځه لاړې شي.دغه شعرهم له همدغه سرلیک ښخه را اخیستل شوی چي سرسری ژباړه یي داسي ده .

رومی بدل شو ، شامی بدل شو، هندوستان بدلون وموند
ته ای د کوهستان بچیه خپله خودي اوخپل ځان وپيژنه ،
خپله خودي وپيژنه
او غافل افغانه!
موسم ښکلي ، اوبه زیاتي ، خاوره هم زرخیزه
ښوک چي دخپل کرکیلي په فکرکي نه وي ، هغه څه ډول دهقان دي
خپله خودي وپيژنه
او غافل افغانه!
لوړچي لکه د ښيو په شان نه وي ، هغه نو څه شان سیند او اوبه وي
چي شمال او باد یي تند نه وي ، هغه نو څه شان توپان وي
خپله خودي وپيژنه
او غافل افغانه!

**پای**

لیکوال : پروفیسور عبدالخالق رشید
نهروپوهنتون هند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ